مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۱/۱۵

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسل و دویمه برخه

ستا فرمایش وو ما پوره کړ
دا وچ وابنه په اوړي چا خوړلي دینه

وچو وښو ته اوس اړم یم
غاړه به ږدو چې راته شوي دي امرونه

د خدای له پاره حال مو گورئ
ځاوري خو نه یو په وښوو ژوند تېرونه

بوغاري مه وهه جانانه
تازه وابنه مې له پټي راوړي دینه

استاد صدیق روهي به زموږ د ماستری دورې په کوروسونو کې کله، کله ویل چې:

«په دې وطن کې هر نه کېدونکی کېدای شي شوني شي او ټول کېدونکي شیان کېدای شي ناشوني شي.»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په افغانستان کې دا کیسه له ډېرو کلونو راپه دېخوا عملاً روانه ده. په وطن کې د ورستیو سیاسي نظامي بدلونونو په پایله کې د لوږې او بېروزګارۍ یوه توره تباه کونکې پرده راوغوړول شوه چې د ټولنې تر نوي سلنې پورې خلک یې په منفي ډول متأثره کړل، پخوانیي واکداران د خپلو ښکرورو درواغو پر وزرونو داسې الوت وکړ چې نښه یې هم چا ونه لیدله او پېریانو په څېر ورک شول.

نوي واکداران د خپلو فتحو د بریا له پاره نه پوهېږي چې څه وکړي؛ خو عام خلک د جګړې له بلا نه د خلاصون په هماغو لومړیو شېبو کې د لوږې او بېروزګارۍ دوو غبرګوو بلاوو تر ستوني رانیولي دي او دې برید پورې رارسولي دي چې نوره لاره ورنه ورکه ده او له ډېرې مجبوري نه د اولادونو خرڅلاو ته هم اړ شوي دي.

د لوږې او بېروزګارۍ د سونامیو په څپو کې کله ـ کله د نویو واکدارانو تر خولې داسې څه راوزي چې د بشریت په تاریخ کې به چا نه لیدلي وي او نه به یې اورېدلي وي:

ـ خلک دې کوڅو ته وزي بوغارې دې ووهي،

ـ هیڅوک له لوږې نه دې مړه شوي، وابښه دې وخوري.

دا خبرې چې له هره اړخه وڅېړل شي، د توجې وړ نه شي کېدای. په داسې حالاتو کې کېدای شي ډېرې خلک د بېلابېلو دلایلو له مخې پټه خوله پاتې وي، خو فولکلور او فولکلور کې بیا لنډۍ خپل کار کوي، ځکه چې د لنډیو ویونکي پټ دي، شاعر یې نامعلوم وي او د ویلو پټه یې هم نه وي ښکاره. بوغارو او د وښو خوراک ته هم د لنډیو په فورم کې په هماغه ساعت او په هماغې ورځې غبرګونونه وښودل شول، لنډۍ تخلیق شوې او د نوې تکنالوژۍ پر مټ تر ټولو خلکو پورې ورسول شوې.

د پاسنیو ارشاداتو؟ په غبرګون کې ښایي ډېرې لنډۍ تخلیق شوې وي، ما ته چې څومره په مخه راغلې او یا مې اورېدلې دي، هغه مې راخوندي کړې دي چې دلته یې له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

وچو وښو ته اوس اړم یم
غاړه به ږدو چې راته شوي دي امرونه

که سپین وابښه که شنه وابښه وي
که خوند هم نه وي مجبوراً به شوخوند وهونه

خدایه دا څنګه زمانه شوه
چې ډوډۍ نه شته په وښوو وهو شخوندونه

د خدای له پاره حال مو ګورئ
څاوري خو نه یو په وښوو ژوند تېرونه

ته دې وابښه خوره درنه لاړم
زه څاروی نه یم چې وښوو ته ودرېږمه

بوغارې مه وهه جانانه
تازه وابښه مې له پټې راوړي دینه

په شنو ټانټو دی اموخته کړم
اوس د غنمو بوس مزه نه راکوینه

اخور کې دوه ګوتې ځای راکړه
وابښه به خورمه ښه به نوره چاغه شمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په شنو وښو دې اموخته کړم
اوس د چرګانو کباب خوند نه راکوينه

په شنو وښو کې دې شپه راغله
هم به وابنه خورې هم به وکړی ديدنونه

په شنو وښو دې اموخته کړم
د سپينو بوسو بوجۍ خوند نه راکوينه

تا چی کوڅه کې توخی وکړ
زه په وښو ککړه خوله در ووتمه

وابنه دې وخوړل ويده شوې
په زړه دې نشته د شيرين جانان غمونه

ستا فرمايش وو ما پوره کړ
دا وچ وابنه په اوړي چا خوړلي دينه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ